کاروبار
۴ مخ




## نیسان

نیسان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ۱۵۵ زره کارکوونکي لري، په سلګونو استازولۍ لري او د نړۍ په کچه د موټر جوړونې د سترو کمپنیو په قطار کې ولاړه کمپنۍ ده.

## سوداګرۍ وزارت: اردن ته د افغانستان د صادراتو په کچه کې ۷۰ سلنه زیاتوالی راغلی



سوداګرۍ وزارت وايي، اردن ته د افغانستان د صادراتو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د یاد وزارت ویاند فواد احمدي زیاتوي، د دوی شمېرې ښيي چې له ۲۰۱۸ څخه تر ۲۰۲۰ میلادي کال پورې له افغانستان څخه اردن ته د صادراتو په کچه کې ۷۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

د هغه په خبره، له ۲۰۱۸ز کال راهیسې د افغانستان د صادراتو کچه له ۰.۵۱ میلیونه ډالرو څخه ۱ میلیونه ډالرو ته لوړه شوې او د صنعت او سوداګرۍ وزارت مشرتابه هڅه کوي، څو د سوداګریز تړون په لاسلیک کولو سره اردن هېواد ته د محصولاتو صادرات څو برابره زیاته کړي.

د یادونې ده چې اردن په منځني ختیځ کې د افغانستان لپاره یو له لویو صادراتي هېوادونو شمېرل کېږي چې دا مهال د تالک ډبرو، ډبرو سکرو، ځیرې، د هندوانو زړو او تازه مېوو لپاره ښه بازارونه لري.

مسیر
ورځپانه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
دوشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۴مه | د ۲۰۲۱ د جولای پنځمه | ۷۴۴مه ګڼه

# د جګړو او ولسوالیو د سقوط دوام؛

## طالبان: په تېرو دوو میاشتو کې مو په ۲۸ ولایتونو کې ۱۴۳ ولسوالۍ نیولي



۳

ایا پاکستان د امریکا او ناټو پوځیانو ته له افغانستان څخه د وتلو لار هم ورکړې؟

۳ مخ

شل کلن حضور، وحشتونه او خیانتونه

۲ مخ

د سولې خبرې څنګه بېرته پیلېدلی شي؟

۲ مخ

## سیمه‌ییز چارواکي: په پکتیا کې د سړک د غاړې په ماین چاودنه کې څلور ملکیان وژل شوي

د پکتیا سیمه چارواکي او پولیس وايي چې د دغه ولایت په مرکز ګردېز کې د سړک غاړې ماین چاودنې څلور ملکي وګړي وژلي دي. د پکتیا د پولیسو ویاند حیات الله نظامي احمدزی وايي چې دغه چاودنه د ګردېز د څلورمې امنیتي حوزې اړوند په رباط سیمه کې پر یوه سراچه موټر شوې ده.

نوموړی دغه راز زیاتوي، چې په دې پېښه کې په موټر کې ناستې دوې ښځې، یو ماشوم او یو سړی وژل شوي او موټر یې هم له منځه تللی دی. د حیات الله نظامي احمدزي په وینا، دغه څلور واړه وژل شوي ملکیان د مختلفو کورنیو غړي دي.

که څه هم تر اوسه د دغې ماین چاودنې مسوولیت چا پرغاړه نه دی اخیستی، خو د پکتیا د پولیسو ویاند یې پړه پر وسله والو طالبانو اچولې ده. احمدزی دغه راز وايي، چې په یاده سیمه کې پولیسو څلور کړۍ نور ماینونه کشف او خنثی کړي هم دي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د جګړو له شدت سره هممهاله د هېواد له ګڼو سیمو څخه د ملکي مرګ ژوبلې راپورونه هم ډېر شوي دي. د دغو راپورونو پر بنسټ ملکي وګړو تر ټولو ډېر مرګ ژوبله د سړک د غاړې په ماین چاودنو، هوایي بمباریو او دغه راز ځانمرګو بریدونو او وسله والو نښتو کې اوړي.

## سره صلیب کمېټه: جګړو، کرونا او وچکالۍ د افغانانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ کړی



۲ مخ

## امریکا: هیچ برنامه‌ای برای بستن سفارت خود در کابل وجود ندارد



سفارت امریکا در کابل اعلام کرد که به فعالیت خود در افغانستان هم‌چنان ادامه می‌دهد و هیچ برنامه‌ای برای بستن این سفارت وجود ندارد.

این در حالیست که رسانه‌های امریکایی پیش‌تر گزارش داده بودند که طرح تخلیه اضطراری سفارت امریکا در کابل روی میز است. سفارت امریکا در کابل در یک رشته توییتی گفته است که براساس دستور جو بایدن، رئیس جمهور امریکا، حضور پر رنگ دیپلماتیک واشنگتن در کابل ادامه می‌یابد تا طیف وسیعی از کارها را با دولت و مردم افغانستان انجام دهد.

با این حال، سفارت امریکا در کابل گفته است که در حال برنامه‌ریزی برای موارد غیرمترقبه و نحوه کاهش خطرات برای مردم و برنامه‌های خود است.

سفارت امریکا می گوید که از چالش‌های امنیتی برای فعالیت در افغانستان آگاهی دارد و در صورت لزوم برای رفع این چالش‌ها برنامه‌هایش را تنظیم خواهد کرد.

این سفارت تأکید کرده است که می‌تواند به روش ایمن و به نفع افغانستان و روابط دو جانبه کابل – واشنگتن کار کند. سفارت امریکا گفته است که مانند سایر مأموریت‌های خارج از امریکا، برنامه‌های امنیتی خوبی را ایجاد کرده است.

این در حالیست که در این اواخر همزمان با خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان نګرانی های وجود دارند که بعضی از کشور ها با خروج سربازان شان از افغانستان ممکن است حضور دیپلوماتیک خویش را نیز در این کشور متوقف سازند.

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af
aksosbookstore@gmail.com

سرلیکنه

## د سولې خبرې ځنګه بېرته پیلېدلی شي؟

په کابل کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولی یا یوناما ویلي چې مشري یې له ولسمشر غني سره کتلي او غوښتنه یې کړې چې د سولې خبرې ژر بېرته پیل شي. یوناما په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، مشرې یې دیبورا لاینز ویلي چې د جګړې د ختمولو هڅې دې وشي او ژر تر ژره دې خبرې پیل شي. تر دې وړاندې هم په کور دننه خلکو پرله‌پسې د جګړې د درولو او د سولې خبرو د بیا پیل غوښتنه کړې وه. اوس پوښتنه دا ده چې د سولې په ټپه درېدلي خبرې ځنګه بېرته پیلېدلی شي؟ تر اوسه پورې حکومت طالبان او طالبان بیا حکومت ملامتوي چې د سولې خبرو ته نه حاضرېږي. حکومت وایي چې طالبان سولې ته تمایل نه لري او په عملي ډول یې جګړې ته زور ورکړی چې د ولسوالیو نیول یې ښه بېلګه ده. طالبان بیا وایي چې حکومتي پلاوی خبرو ته نه حاضرېږي او ډېره موده د حکومتي پلاوي مشر او غړي په دوحه کې نه وو او د دوی له پرله‌پسې غوښتنو سره سره پلاوی تکمیل نه شو. که څه هم دواړه لوري یو بل ملامتوي، خو څه چې خلکو ته ښکاري، هغه دا ده چې دواړه لوري په خپل ډول د سولې خبرو ته لېوالتیا نه لري او پړه دي. دوی که په رښتیني مانا غوښتي وی، خبرې پیلېدلې او که یوه لوري یې هم په رښتینې مانا د خبرو پیل غوښتی، نو په واضح ډول به یې اعلان کړی و چې خبرو ته تیار دي، پلاوی یې همدې ته منتظر او پر خپل ځای دی او خلکو ته به یې ثابته کړې وه چې مقابل لوری خبرو ته نه حاضرېږي. اوس ستونزه دا ده چې له بده مرغه له دواړو اړخونو څخه سولې ته لېوالتیا نشته. طالبان فکر کوي چې څومره چې دا خبرې ځنډېږي، دوی ګټه کوي، ځکه لا زیاته جغرافیه لاندې کوي او په دې ډول به په سوله کې هم ډېر امتیاز ولري. حکومتي چارواکي بیا لا هم هغسې سولې ته تیار نه دي چې د دوی واک او ځواک ورسره ختم شي. دوی لا هم د طالبانو د ملامتی لوبه مخکې وړي او په دې ډول د سولې خبرې دربېدلې دي.
اوس پکار ده چې د ملامتی لوبه بنده شي، دواړه اړخونه باید په واضح ډول اعلان وکړي چې د سولې خبرو ته تیار دي. هر لوری چې رښتیا سوله غواړي، خپل پلاوی دې د خبرو ځای ته ولېږي او له وړاندې دې هم مقابل لوري او هم رسنیو ته خبر ورکړي چې دوی د سولې خبرو ځای ته په کوم وخت حاضرېږي. په دې ډول به بل لوری هم حاضر شي او که حاضر نه شي، خلک به هغه لوری وپېژني چې خبرې نه کوي. د دې تر څنګ به خلک او نور بهرني سوله غوښتونکي هم پرې فشار راوړي چې د سولې خبرو ته حاضر شي. له همدې امله عملي ګام باید واخیستل شي او تر هغو چې دا عملي ګام وا نه خیستل شي، نه به جګړه ودرېږي او نه به هم د سولې کارنده خبرې پیل شي.

# شل کلن حضور، وحشتونه او خیانتونه

لیکنه: هېواد ځاځی



امریکا او ملګرو یې د سپټمبر د یوولسمې تر بریدونو وروسته په ۲۰۰۱ کال پر افغانستان برید وکړ، د طالبانو حکومت یې ړنګ او پر ځای یې د بُن تر کنفرانس وروسته د حکومت داسې یو جوړښت رامنځته کړ، چې ټولې هغه ډلې ټپلې پکې واکمنې شوې، چې تر دې وړاندې یې له طالبانو سره د مقاومت په نوم جګړه کوله او د طالبانو پر وړاندې د امریکا د بریدونو ملاتړ او په ځمکنۍ جګړه کې د امریکا او ناټو د ځمکني ځواک رول یې ادا کړ. پر دې ډلو د امریکایانو لخوا د قدرت د چاکلېټو ویشلو تر څنګ بېساري ډالر هم وویشل شول، چې وروسته بیا پرې د هېچا زور هم ونه رسېد. امریکایان او ملګري یې په یوه نوي سوچ سره دلته راغلل، دوی په لومړیو کې افغانانو ته ډېرې غوړې ژمنې ورکړې، د جګړې ختمول، د نشه‌یي توکو د کرکلې او قاچاق له منځه وړل، دولت جوړونه، د امنیتي ځواکونو پیاوړتیا، بیارغونه، د بنسټونو رغونه او دې ته ورته په لسګونه داسې نورې ژمنې چې له افغان جګړه ځپلي ولس سره د دوی د مرستو شعارونه ګرځېدلي وو، له څه مودې وروسته ګام په ګام دا هرڅه معکوس راڅرګند او ورو په ورو روښانه شوه چې ناټو او امریکا دلته دې څه په لټه د افغانانو خاوره کاروي او دوی برخلاف مور د خپلو ګټو او اهدافو لپاره وژني. په دې شل کلن حضور کې چې امریکایانو دلته درلود، په سلګونه زره بېګناه افغان ماشومان، ښځې او سپین ږیري یې په ډېره بې رحمۍ د بمبارونو، چاودنو، توپچي بریدونو او شپنیو عملیاتو له امله قرباني شول. په دې خونړۍ جګړه کې چې پیلوونکې یې همدا په نړۍ کې د بشر پالنې ناره وهونکي وو، هر ډول جنګي جنایتونه یې تر سره کړل. کروندګر په کروندو کې، ماشومان په ښوونځیو او روغتونونو کې، ښځې او سپین ږیري په کورونو کې تر ړندو بریدونو لاندې ووژل شول، چې وروسته یې بیا هغه محاکم او بنسټونه هم تحریم کړل، چې دا جنایتونه یې څېړل. مور د یوه داسې خونړي جنګ ښکار یو چې ودونه او ناوې مو هم د ړندو بمباریو ښکار شوي. د نشه‌یي توکو کښت په کراتو زیات او قاچاق یې خورا پیاوړی دی. دولت جوړونه په دولت وېشنه، ډیموکراسي په بیروکراسۍ، بیارغونه په ویجاړۍ، اقتصادي وده په بېکارۍ او له هیواده د کډرونو تېښتې او اداري فساد افغانستان د نړۍ لومړی مفسد هیواد کړ.
د امنیتي ځواکونو تجهیز په هغه کچه چې ورته اړتیا وه، ونه شو. په امنیتي سکټور کې هم هغه خلک واکمن شول چې د امریکا په جنایتونو کې یا شریک او یا هم چوپه خوله وو. هوایي ځواک مو یوازې په څو هلیکوپټرو پورې محدود پاتې شو، ملي یووالی یې په قومي جوړښتونو بدل او د ملت جوړونې پر ځای یې ملیت پالنه رامنځته کړه. خلاصه هر هغه څه یې تر سره کړل چې زموږ د ملي ګټو او ملي عنعناتو او عرف خلاف وو؛ مګر هغه څه یې وکړل چې د دوی د ګټو پالونکي او ساتونکي وو. زموږ ملي او بنسټیزې پروژې او د کانونو کېندل خو لا تر اوسه په صفر کې ضرب دي. اوس چې دوی د وتلو کوم تمثیل شروع کړی، دا هم د یوې خونړۍ جګړې له دوام سره مل دی. د جنګ د ختم پر ځای یې د دوام لپاره د سون توکو د برابرولو هڅه پیل کړې؛ ځکه دوی غواړي چې نظامي ځواکونه وباسي، خو د یوه دوامداره استخباراتي پایښت په لټه کې دي.

# سره صلیب کمېټه: جګړو، کرونا او وچکالۍ د افغانانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ کړی



په افغانستان کې د سره صلیب نړیواله کمېټه وایي، روانو جګړو، کرونا وبا او سختې وچکالۍ د ملکي افغانانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ کړی دی. د دې ادارې په خبره، دغه درې ستونزې چې په وروستیو کې یې شدت زیات شوی، د عامو افغانانو پر ژوند مستقیم اغېز لري.
په کابل کې د سره صلیب نړیوالې کمېټې ویانده رویا موسوي وایي، چې دې حالت اندېښمن کړي، خو چمتو دي چې له دغه هېواد سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي. د هغه په خبره: «موږ دغه وضعیت ته سخت اندېښمن یو. دا د افغانستان خلک دي چې د دې جګړې درنه بیه پرې کوي. د سره صلیب نړیواله کمېټه د یوه بشردوستانه بنسټ په توګه افغانانو ته متعهده ده. موږ له سرې میاشتې ټولنې سره یوځای د روغتیا، بندیانو ته د لاسرسي، د بندیانو له کورنیو سره د دوی د اړیکو ټینګولو او په افغانستان کې زموږ د ارتوپیډۍ د ۷ مرکزونو له لارې خپلو خدمتونو ته ژمن یو. خپل توان ته په پام سره ورته کار کوو.»
دا په داسې حال کې ده چې د سره صلیب نړیوالې کمېټې عمومي مدیر رابرت ماردیني د تېر لمریز کال په عقرب میاشت کې افغانستان ته د سفر پر مهال ویلي وو، چې په روانه جګړه کې ښکېل لوري د جګړې قوانین نه رعایتوي، ځکه نو هره ورځ په جګړه کې ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي.
په ورته مهال د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په یوه ټویټ کې ویلي: «نړیوال ځواکونه داسې وخت له افغانستانه وځي، چې دا هېواد نه یوازې له سختې جګړې او نامعلوم برخلیک سره مخ دی، بلکې له جزا څخه د معافیت کلتور هم پرځای پاتې دی.»
د دغه کمېسیون کمېشنر او ویاند شکر الله مشکور د ناامنیو زیاتېدو ته په اشارې، وایي: «موږ تل د جګړې او تاوتریخوالي پر زیاتېدو او پراخېدو اندېښنه څرګنده کړې ده. کمېسیون بیا غږ کوي چې ستونزې دې د خبرو اترو له لارې حل شي. جګړه نه یوازې د حل لاره نه ده، بلکې ملکي تلفات او د عامه تاسیساتو نړېدل له ځان سره لري چې د جګړې له اصولو ښکاره سرغړونه بلل کېږي.»
په داسې حال کې چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو د بهیر بشپړېدو ته شاوخوا یوه میاشت پاتې ده، په افغانستان کې د جګړو شدت هم زیات شوی دی. هره ورځ په بېلابېلو ولایتونو کې د ځینو ولسوالیو او سیمو د لاس په لاس کېدو، په جګړه کې د خلکو د زیانمنېدو او مرګ ژوبلې خبرونه ورکول کېږي.

# ایا پاکستان د امریکا او ناټو پوځیانو ته له افغانستان څخه د وتلو لار هم ورکړې؟

ریاض سهیل؛ بي‌بي‌سي

د تېرې جون میاشتې د ۲۲مې نېټې پر شپه د نړۍ تر ټولو ستره باروړونکې الوتکه «انتونوف اي این ۲۲۵» د افغانستان له پلازمینې کابل والوته او سهار د پاکستان د کراچۍ هوايي ډګر کې کېناسته. دې الوتکې د کراچۍ هوايي ډګر کې ۲۰ ساعته تېر کړل.

دا الوتنه پټه نه وه، کراچۍ ته د نړۍ د تر ټولو سترې الوتکې پر ورتګ رپوټونه هم وشول. د پاکستان د هوايي چلن اداري ویاند وايي، دا الوتکه د کراچۍ هوايي ډګر کې د تېلو تر اخیستو وروسته بېرته الوتې ده.

**ایا خبره همدومره ساده ده؟**

بي‌بي‌سي ته په لاس ورغلي لاسوندونه ښيي چې دې الوتکه کې د ایټالوي ځواکونو پوځي تجهیزات کراچۍ ته لېږدول شوي دي.

له افغانستانه د ناټو او امریکا د وروستیو ځواکونو د وتلو لړۍ له پیل راهیسې انتونوف الوتکې د پوځي تجهیزاتو د لېږدولو لپاره افغانستان ته الوتنې کوي او دا هم د همدې لړۍ برخه وه.

د ملکي هوايي چلن او کارګو اسناد ښيي ایټالیا خپل پوځي موټرونه او نورو وسایل د همدې الوتکې په وسیله کراچۍ ته رسولي او د دغه ښار له بندره به د سمندر له لارې خپل منزل ته روان شي.

د دغو اسنادو له مخې، د شاهین په نوم خدماتي کمپنۍ اسلام اباد کې د ایټالیا سفارت له دفاعي اتشې د دریو ورځو لپاره د دغو تجهیزاتو د ګودام د کرايې او ټکس لپاره ۸۶۸ زره روپۍ اخیستې دي.

د پاکستان د ملکي هوايي چلن بانکي پاڼو کې د دغو وسایلو شمېر «درې ټولګې» بلل شوی او ډېر جزیات یې نه دي شریک شوي، خو ۲ میلیونه ۸۴۲ زره روپۍ ټکس پرې اخیستل شوی.

خو د ملکي هوايي چلن اداري ویاند بي‌بي‌سي ته ویلي چې دغه انتونوف الوتکه د تېلو لپاره د کراچۍ هوايي ډګر کې ولاړه وه او ګواکې نوموړی یې د بار په اړه مالومات نه لري.

**د امریکا او پاکستان تړون څنګه و؟**

د ایویا کون مېنتروف کمپنۍ اسنادو کې بیا د پوځي تجهیزاتو، موټرونو او لیتیم بېټریو یادونه شوې چې له کراچۍ ایټالیا ته لېږدول کېږي.

پاکستان د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته افغانستان ته د ترهګرۍ خلاف جګړې لپاره د ناټو او امریکايي ځواکونو راتګ کې د پُل رول ولوباوه.

د پاکستان پخواني پوځي ولسمشر جنرال پرویز مشرف په خپل کتاب «د اور پر لیکه» کې د هغو شرایطو یادونه کړې، چې اسلام اباد پر افغانستان له برید وړاندې له امریکا سره منلي وو.

جنرال مشرف خپل کتاب کې لیکلي چې د امریکا د هغه مهال بهرنیو چارو وزیر کولن پاول د سپټمبر د بریدونو پر سبا ټلیفون کې ورته وویل، چې یا به د امریکا تر څنګ او یا د دوی خلاف ودرېږي.

د پاکستان د پوځي استخباراتو ادارې «ای ایس ای» مشر د سپټمبر د بریدونو پر مهال امریکا کې و. هغه وايي د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ریچارډ ارماټیج ورته ویلي که د ترهګرو تر څنګ د درېدو پرېکړه وکړي، نو دومره به یې بمبار کړي چې د کاڼو عصر ته ورسېږي.

مشرف لیکي، دا خورا څرګند ګواښ و او داسې ښکارېدل چې امریکا د ځواب ویلو پرېکړه کړې وه.

**له پاکستان څخه د امریکا غوښتنې**

جنرال پرویز مشرف وايي، د سپټمبر له بریدونو وروسته اسلام اباد کې د امریکا سفیر وېډي چیمبلن ورته لاندې اووه غوښتنې مخ ته کېښودې:

۱- پاکستان دې د القاعده غړو ته له پولې د وراوښتلو اجازه نه ورکوي، له پاکستان تېرېدونکې وسله دې ونیول شي او پر اسامه بن لادن دې هر ډول مرسته ودرول شي.

۲- امریکا ته دې د اړتیا له مخې د پوځي او استخباراتي اهدافو لپاره هوايي لارې او له هر ډول شرط پرته ځمکنۍ اسانتیاوې برابرې شي.

۳- امریکا او متحدینو ته دې د ترهګرۍ ضد د پوځي او استخباراتي اقداماتو لپاره سرحدي سیمو ته د لاسرسي زمینه برابره او د دغه کار لپاره دې د پاکستان د ځمکنیو او هوايي اډو د کارولو اجازه ورکړل شي.

۴- امریکا ته باید په سملاسي ډول د پوځي عملیاتو او کورني امنیت په تړاو مالومات ورکړل شي، ځکه دا کار به د امریکا او متحدینو خلاف د ترهګریزو کړنو مخنیوي کې مرستندوی ثابت شي.

۵- د سپټمبر د ۱۱مې او د متحدینو خلاف د ترهګرۍ نور بریدونه باید په زغرده وغندل شي. د پاکستان حکومت باید دغه هېواد کې د ترهګرۍ په ملاتړ او د امریکا او متحدینو خلاف د بیانونو او څرګندونو مخه ونیسي.

٦- طالبانو ته دې د تېلو او نورو توکو د لېږد او همدا راز د هغو رضاکارو مخه ونیول شي، چې په ترهګریزو بریدونو او جګړو کې د ګډون لپاره افغانستان ته ځي.

۷- که دا ثابتېږي چې اسامه بن لادن او افغانستان کې د هغه فعاله شبکه د سپټمبر بریدونو کې لاس لري او طالبان یې پناه ورکولو ته دوام ورکوي، پاکستان به له طالبانو سره سفارتي اړیکې پرې کوي، مرستې به ورسره بندوي، د اسامه بن لادن او القاعده شبکې له منځه وړلو کې به مرسته کوي.

پرویز مشرف لیکي چې ده پورته دویم او درېیم شرط نه شو منلی. د هغه په وینا: «امریکا ته مې څنګه له قید او شرط پرته هوايي لارې او ځمکنۍ اسانتیاوې برابرولی شوې؟ ما د جنګي الوتکو لپاره د هوايي ډګر له ورکولو انکار وکړ.»

مشرف وايي، امریکا ته یې د بلوچستان د شمسي او د سند د جیکب اباد هوايي اډې د کارولو اجازه ورکړه، خو هغه هم یوازې د تجهیزاتو او اکمالاتو د لېږد لپاره. له دغو دواړو اډو یې هېڅ ډول برید نشو کولی. نورې غوښتنې یو څه د منلو وړ وې او امریکا هم له ځنډ پرته ورسره ومنله.

**پاکستان د ناټو د اکمالاتو لار**

له پاکستانه افغانستان ته د ناټو د پوځي اکمالاتو او نورو تجهیزاتو د لېږد دوه ځمکنۍ لارې وې. یوه له پېښوره د خیبر درې له لارې تورخم او ننګرهار ته او بله له بلوچستانه د چمن له لارې کندهار ته غځېده.

د شمېرو له مخې، د ناټو شاوخوا ۷۰ سلنه تجهیزات او اکمالات له همدغو ځمکنیو لارو تلل او پاتې ۳۰ سلنه د هوا له لارې افغانستان ته رسېدل.

پاکستان دغو اکمالاتو ته د لار ورکولو په بدل کې هر کال له ناټو او امریکا ډېرې پیسې تر لاسه کولې، چې «د اتحاد ملاتړي فنډ» یې باله.

د پاکستان د خزانې وزارت په وینا، پاکستان تر ۲۰۱۸ کال پورې له دې لارې ۱۴ میلیونه ډالر تر لاسه کول، خو د امریکا د مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ تر راتګ وروسته دا مرسته پرې ودرول شوه.

**د سلاله تر برید وروسته د لارو تړل**

د ۲۰۱۰ کال د نومبر په ۲۶مه تر هغې وروسته د امریکا او پاکستان اړیکې ترینګلې او د اکمالاتو دا لارې وتړل شوې، چې د امریکا هوايي ځواکونو ډیورنډ فرضي کرښې ته نږدې د پاکستان پر سلاله پوستې برید وکړ. دغه برید کې ۲۴ پاکستاني پوځیان ووژل شول.

تر دغه برید وروسته د پاکستان سنا کې د رضا رباني په مشرۍ د ملي امنیت او دفاعي چارو پارلماني کمېټې سپارښتنه وکړه، چې د پاکستان راتلونکې حکومتونه باید نور د ملي امنیت لپاره تقریري ژمنې ونه کړي. پر دې هم ټینګار وشو چې که د پوځي همکاریو په ګډون هر ډول اسناد لاسلیک کېږي، اړوندې ادارې باید ترې خبرې وي.

**ایا پاکستان ناټو ته د بېرته تګ لاره ورکړې؟**

پاکستان امریکا او ناټو ته افغانستان کې د ترهګرۍ خلاف د شاوخوا شل کلنې جګړې پر مهال د اکمالاتو لارې ورکړې وې. اوس پوښتنه دا ده چې ایا دغو ځواکونو ته یې له افغانستانه د وتلو لپاره هم د خپلو هوايي، ځمکنیو او سمندري لارو د کارېدو اجازه ورکړې یا ورکوي؟

ایا د دواړو خواوو تر منځ په دې تړاو کوم تړون شوی دی؟ بي‌بي‌سي په دې د پوهېدو لپاره درې اونۍ وړاندې پاکستان کې د امریکا سفارت او د ناټو مرکز ته برېښنالیکونه استولي دي.

ناټو تر اوسه دا پوښتنې نه دي ځواب کړې، خو کراچۍ کې د امریکا سیاسي استازولۍ د ولسمشر جو بایډن د هغې وینا حواله ورکړې، چې ویلي یې دي امریکا به خپلې د ترهګرۍ ضد وړتیاوې پیاوړې وساتي. له افغانستان او نورو ځایونو به د ترهګرۍ د خطر د راپورته کېدو مخه ونیول شي.

کراچۍ کې د امریکا کونسلګري وايي، په دې تړاو له دې ډېر جزیات نشي ورکولی.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند د دې پوښتنې ځواب کې وايي چې «د پاکستان دفاع وزارت د دغه هېواد د ځمکنیو او هوايي حدودو د کارېدو په تړاو ښه مالومات ورکولی شي.»

د دفاعي کمېټې د غړي سید مشاهد حسین په وینا، ډېر تجهیزات د هوا له لارې لېږدول کېږي او ګواکې د پاکستان له اړخه تر اوسه کوم تړون نه دی شوی.

**د ملي امنیت کمېټه**

د پاکستان پوځي مشرانو څو ورځې مخکې د دغه هېواد حکومت او پارلمان کې د ملي امنیت کمېټې غړو ته له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه مالومات ورکړل.

دې غونډې څلور ساعته دوام وکړ او د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال قمر جاوید باجوه هم پکې برخه درلوده.

د پاکستان پوځي چارواکو دې ناسته کې د غونډې ګډونوالو ته د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته د افغانستان د وضعیت په تړاو هم مالومات وړاندې کړل.

د دې غونډې یوه ګډونوال بي‌بي‌سي ته ویلي، دوی ته وویل شول چې «پاکستان له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو پر مهال امریکا ته ځمکنۍ اډې نه ورکوي. خو دا خبره روښانه شوه چې امریکا د پخوانیو تړونونو پر بنسټ د دوی هوايي حریم کارولی شي.»

دا چې دې انتونوف الوتکې به د تجهیزاتو د لېږد وروستۍ الوتنه دا وي او که دا لړۍ به دوام لري، په دې تړاو ډېر مالومات نشته .

د پاکستان د اطلاعاتو او نشراتو د فدرال وزیر فواد چوهدري د نظر اخیستلو لپاره مو په وار وار هغه او د نوموړي له ویاند سره د ټلیفوني اړیکې هڅه وکړه او لیکلې پوښتنې مو هم ور واستولې، خو د ۲۴ ساعتونو له تېرېدو سره سره ځواب تر لاسه نه شو.

سنا کې د څېړونو او امنیت د کمېټې اجرايي مدیر امتیاز ګل وايي، بهرني ځواکونه خپل ډېر تجهیزات افغانستان کې دننه له منځه وړي، ځکه افغانستان پر دې نیوکه کړې چې دغه تجهیزات دې پاکستان ته نه ورکول کېږي. نور وسایل د الوتکو په وسیله لېږدول کېږي. هغه زیاتوي، دا امکان هم شته چې ځینې وسایل په همدې ډول له پاکستانه ولېږدول شي.

د امتیاز ګل په وینا، که په دې تړاو کوم تړون موجود وای، نو له شک پرته شریک شوی به وی.

# د جګړو او ولسوالیو د سقوط دوام؛

## طالبان: په تېرو دوو میاشتو کې مو په ۲۸ ولایتونو کې ۱۴۳ ولسوالۍ نیولې



په کابل کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ یا یوناما ویلي چې مشرې یې له ولسمشر غني سره کتلي او غوښتنه یې کړې چې د سولې خبرې ژر بېرته پیل شي. یوناما په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، مشرې یې دیبورا لاینز ویلي چې د جګړې د ختمولو هڅې دې وشي او ژر تر ژره دې خبرې پیل شي. تر دې وړاندې هم په کور دننه خلکو پرله‌پسې د جګړې د درولو او د سولې خبرو د بیا پیل غوښتنه کړې وه. اوس پوښتنه دا ده چې د سولې په ټپه درېدلې خبرې څنګه بېرته پیلېدلی شي؟

تر اوسه پورې حکومت طالبان او طالبان بیا حکومت ملامتوي چې د سولې خبرو ته نه حاضرېږي. حکومت وايي چې طالبان سولې ته تمایل نه لري او په عملي ډول یې جګړې ته زور ورکړی چې د ولسوالیو نیول یې ښه بېلګه ده. طالبان بیا وايي چې حکومتي پلاوی خبرو ته نه حاضرېږي او ډېره موده د حکومتي پلاوي مشر او غړي په دوحه کې نه وو او د دوی له پرله‌پسې غوښتنو سره سره پلاوی تکمیل نه شو. که څه هم دواړه لوري یو بل ملامتوي، خو څه چې خلکو ته ښکاري، هغه دا ده چې دواړه لوري په خپل ډول د سولې خبرو ته لېوالتیا نه لري او پړه دي. دوی که په رښتیني مانا غوښتي وی، خبرې پیلېدلې او که یوه لوري یې هم په رښتیني مانا د خبرو پیل غوښتی، نو په واضح ډول به یې اعلان کړی و چې خبرو ته تیار دي، پلاوی یې همدې ته منتظر او پر خپل ځای دی او خلکو ته به یې ثابته کړې وه چې مقابل لوری خبرو ته نه حاضرېږي. اوس ستونزه دا ده چې له بده مرغه له دواړو اړخونو څخه سولې ته لېوالتیا نشته. طالبان فکر کوي چې څومره چې دا خبرې ځنډېږي، دوی ګټه کوي، ځکه لا زیاته جغرافیه لاندې کوي او په دې ډول به په سوله کې هم ډېر امتیاز ولري. حکومتي چارواکي بیا لا هم هغسې سولې ته تیار نه دي چې د دوی واک او ځواک ورسره ختم شي. دوی لا هم د طالبانو د ملامتۍ لوبه مخکې وړي او په دې ډول د سولې خبرې درېدلې دي.

اوس پکار ده چې د ملامتۍ لوبه بنده شي، دواړه اړخونه باید په واضح ډول اعلان وکړي چې د سولې خبرو ته تیار دي. هر لوری چې رښتیا سوله غواړي، خپل پلاوی دې د خبرو ځای ته ولېږي او له وړاندې دې هم مقابل لوري او هم رسنیو ته خبر ورکړي چې دوی د سولې خبرو ځای ته په کوم وخت حاضرېږي. په دې ډول به بل لوری هم حاضر شي او که حاضر نه شي، خلک به هغه لوری وپېژني چې خبرې نه کوي. د دې تر څنګ به خلک او نور بهرني سوله غوښتونکي هم پرې فشار راوړي چې د سولې خبرو ته حاضر شي. له همدې امله عملي ګام باید واخیستل شي او تر هغو چې دا عملي ګام وا نه خیستل شي، نه به جګړه ودرېږي او نه به هم د سولې کارنده خبرې پیل شي.

## د کتــاب خبــرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرینکل**
ژبـاړن: **میراحمدیـاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

لکه په خبره مې چې پوه شوی وي. لومړی یې پر شونډو یوه موسکا خپره شوه. وروسته بیا دا موسکا په ملنډو واوښته. بیا سپکاوی شو او یو ځواب یې له خولې ووت. دا کلیمه د زندان د هر یوه ساتونکي په خوله وه:«غول» همدلته مې ځواب وموند. دې کار زما د رواني غبرګون پر لومړي پړاو یو داغ کېښود او ما له خپل تېر ژوند سره خدای پاماني وکړه.
بندیان ټول وېرېدلي ولاړ وو. رنګونه یې الوتي وو. همداسې بې اسرې ولاړ وو. ناڅاپه مو بیا د افسرانو بد غږ واورېد. موږ یې ټول د حمام انتظار خونې ته ټېله کړو. هلته یو افسر په تمه ولاړ و چې ټول ورننوځو. ګرد چاپېره ترې ودرېدو. ټول چې ننوتو، وې ویل: «زه درته په خپل ساعت دوې دقیقې وخت درکوم. په دې دوو دقیقو کې به لوڅ لغړ کېږئ او څه چې درسره وي، چېرته چې ولاړ یئ، هلته به یې پر ځمکه ږدئ. بې له بوټانو، پرتوغاښ او کمربند پرته به بل یو شی هم نه وړئ. وخت پیل شو!»
زندانیانو سمدستي بې له ځنډه ځانونه لوڅ کړل. څومره چې وخت کمېده، هومره د بندیانو وارخطایي زیاتېده او په نارامۍ یې خپل پتلونونه، کمربندونه، نېکرونه او بوټان خلاصول. بیا مو په لومړي ځل د څرمني قمچینې غږ واورېد چې د لغړو زندانیانو پر بدن لګېده. بیا یې موږ ټول په یوه ځای هغې کوټې ته ننویستو چې باید وېښتان مو پکې خرییلي وای. دلته یې لاندې باندې ټول کل کړو. وریسې د لمبا وار شو او په دې ځای کې ټول په یوه لیکه کې ودرېدو. یو بل مو په سختۍ پېژانده؛ خو د ځینو خلکو پر بدن چې اوبه تویې شوې، نو له دې یې یو ارام واخیست.
موږ لمبا ته په نوبت لغړ ولاړ وو. لغړو بدنونو پر دې پوه کړو چې نور مو هېڅ نه درلودل. موږ یوازې لوڅ بدنونه او هغه وېښتان څه دي چې هغه هم پرې نه وو. موږ چې څه لرل، یوازې همدا لغړ بدنونه وو. نور داسې څه پاتې وو چې له تېر ژوند سره یې زموږ اړیکه نښلولې وای؟ له ما سره په دې وخت کې یو کمربند او یوه جوړه عینکې وې. دا کمربند مې هم وروسته په یو کپ وچه ډوډۍ ورکړ. چا چې ملابند بکسې درلودې، هغوی ته لا بله کیسه هم وه. ماخوستن زموږ د زندان مشر راغی. موږ ته یې ښه راغلاست ووایه. لنډه وینا یې وکړه او په خپل غرور یې قسم وکړ چې له هر چا سره یې په ملابند کې پیسې یا بل قیمتي شی ولید، نو پر هغه تیر به یې راوځړوي. مخامخ تیر ته یې لاس ونیوه. بیا یې په غرور وویل چې د زندان د برخې د مشر په توګه قانون د دې کار اجازه ورکوي.
له موږ سره د خپلو بوټانو غم و. موږ باید له ځان سره ساتلي وای؛ خو د چا چې بوټان لږ ښه وو، هغوی مجبور وو چې دا خپل ښه بوټان یې مسئولینو ته ورکړي وای او له هغوی یې داسې بوټان راخیستی وای چې په پښو کې یې جوړ هم نه وای. اصلي ستونزه د هغو خلکو وه چې موزې یې په پښو وې او لږ مخکې چې افسر کومه سپارښتنه کړې وه، هغه یې په غوږ کې وه. دوی به د پخوانیو زندانیانو په سپارښتنه خپلې موزې لنډولې، بیا به یې صابون پرې موښلو چې د غوڅېدو مالومات یې ونه شي. د SS کسان لکه چې همدې ته په تمه وو. د دې کار کوونکي خاینان یې ټول یوې بلې کوټې ته یووړل. بیا پر بدن د څرمني قمچینو شرکا جوړه شوه. د خلکو چیغې ورسره پورته شوې او دا ځل کیسه لږه اوږده شوه.سره له دې چې زموږ هر یو خیال او وهم یو په بل پسې ماتېده؛ خو بیا ناڅاپه په موږ زیاترو کې د خندا یو حس پیدا شو. موږ پوهېدو چې نور هېڅ نه لرو. یوازې همدا خندوونکي لوڅ بدنونه وو او بس. د لمبا پر وخت به چې اوبه راباندې راخوشې شوې، موږ به له یو بل سره ټوکې او شوخي پیل کړه، ځکه که هر څه وي، اوبه خو راباندې په رښتیا راڅڅېدې.
**دوام لري...**

# نیسـان

**حشمت الله نوري**

نیسان د موټر جوړونې څو ملیتي جاپانی شرکت دی. مرکزي دفتر یې د جاپان په یوکوهاما ښار کې دی. د دغه شرکت د جوړېدو تاریخ د ډاټسون د شرکت جوړېدو ته ورګرځي. کله چې یوشیسوکه ایکاوا ډاټسن شرکت واخیست، هغه یې له خپل نوي شرکت نیسان سره یو ځای کړ او د موټر جوړونې دغه نوې برخې ته یې نیسان نوم ورکړ. هغه نوم چې ښایي تاسې ټول ورسره آشنا وی او موټرونه مو یې دلته په افغانستان کې هم لیدلي وي.
نیسان شرکت هم د ټویټا او هونډا په څیر په امریکا کې د لکسس او آکورا شرکتونه جوړ کړل. دوی همدا راز په دغه هېواد کې اینفنیتي شرکت جوړ کړ. له ۱۹۹۹ کال راهیسې رنو د نیسان شرکت تر ټولو ستر برخه لرونکی دی. ویل کېږي چې اوس د نیسان شرکت ۴۴ سلنه ونډې له رنو شرکت سره دي. همدا راز نیسان هم د رنو شرکت ۱۵ سلنه ونډې په واک کې لري. په اوس وخت کې کارلوس غسن په یوه وخت کې هم د رنو او هم د نیسان مشري کوي. هغه د رنو نیسان شرکت له لارې دغه دواړې کمپنۍ چې تر چتر لاندې یې بیا ډېرې نورې کمپنۍ هم دي، په ښه توګه اداره کوي او په دې توګه دغه دوه ښه شریکان خپل کار په ډېر بریالیتوب مخ ته وړي. له ۲۰۱۲ کال وروسته نیسان شرکت تر جنرال موتورز، ټویټا، فولکس واګن، هیوندای، موتور او فورد وروسته د نړۍ شپږم غوره شرکت دی.
په ۱۹۱۱ کال کې ماسوجیزو هاشیموتو د کوایشنیشا موټور ورکس په نامه یو شرکت جوړ کړ. په هغه کې څو نور جاپانیان هم شریکان وو، په ۱۹۱۴ کال کې یې ددریو جاپاني سوداګرو په شراکت وکړی شول چې خپل لومړنی موټر طراحي کړي. دغه دوه سلنډره نقلیه وسیلې لس هسپاوره ماشین درلود او دات نومېده، چې د درې واړو سوداګرو د تخلصونو له لومړیو تورو جوړ شوی نوم و. دا درې واړه سوداګر کنجرو دین، روکار اویاما او میتارو تاکویچي وو.
په ۱۹۱۹ کال کې جیتسایو جیدوشا د کابوتا کمپنۍ د تابع په توګه په اوساکا کې کار پیل کړ. دغه شرکت له ځند پرته د کوچنیو موټرونو په تولید پیل وکړ. دوی د موټرونو د اړتیا وړ توکي له امریکا راوړل او ډېر به یې دلته په جاپان کې تولیدول. په ۱۹۲۵ کال کې کوایشنشا موتور په دات موتور خپل نوم بدل کړ. یو کار وروسته یانې په ۱۹۲٦ کال کې دات موتور شرکت او جیتسایو جیدوشا له یو بل سره یو ځای شول.
په ۱۹۳۰ کال کې دات موټر نور هم تغییر وکړ، د ډاټسن په نامه یې موټر جوړ کړ، چې مانا یې وه د دات زوی چې بیا څه موده وروسته د ډاټسون په نامه مشور شو.
په ۱۹۳۴ کال کې ډاټسون شرکت د نیهون په نامه د موټر جوړونې له یو بل شرکت سره یو ځای شو. دا شرکت د یوشیسوکه آیکاوا و، آیکاوا په لومړي سر کې پرېکړه وکړه چې ډاټسون شرکت واخلي. وروسته یې پرېکړه وکړه چې نور واړه شرکتونه واخلي. دوی بېل بېل صنعتي او غیر صنعتي شرکتونه وو. د دغه شرکت تر چتر لاندې شرکتونو په بېلو برخو کې فعالیت درلود.
د ۱۹۳۰ کال په لومړیو کې نیهون سانګیو د توکویو په بورس بازار کې د دغه شرکت سهام د نیسان په نامه بدل کړل. نیسان هم تر ۱۹۳۳ کال پورې د دغه ستر شرکت تر چتر لاندې فعالیت نه درلود، په ۱۹۳۳ کال کې یې هڅه وکړه چې توباتا شرکت واخلي، ډاټسون چې د توباتا شرکت تر چتر لاندې و، تر دې وروسته د نیسان واک ته ورغی. نیسان یې یو ځل بیا د موټر جوړونې میدان ته راوست، یو کال وروسته یې په ۱۹۳۴ کال کې د نیسان د موټر جوړونې شرکت جوړ کړ.
آیکاوا په هر کال کې د ۱۰ او ۱۵ زرو تر منځ د موټرونو د تولید پلان درلود، هغه د دې پروژې د عملي کولو لپاره منظم پلان جوړ کړ او پر دغه پلان یې کار پیل کړ. یو کال وروسته تر دویم نړیوال جنګ مخکې دوی لومړنی ډاټسن موټر جوړ کړ، چې کوچنی سایز یې درلود او په یوکاهاما کې په جوړه شوې فابریکه کې جوړ شو، بالاخره بازار ته وړاندې شو او د خلکو له هرکلي سره مخ شو.
د دویمې نړیوالې جګړې په اوږدو کې د دغه کمپنۍ د تولیداتو مسیر بدل شو، دوین وروسته له دې جنګي کښتۍ، نظامي موټرونه او د الوتکو ماشینونه جوړول. په ۱۹۴۵ کال کې یې د غیر نظامي وسایلو د تولید لړۍ بیا پیل کړه.
د ۱۹۵۰ کال په لومړیو کې نو نیسان په جاپان کې د موټرونو د تولید تر ټولو ښه کمپنۍ وه. دوی په یوکوهاما کې د خپلو موټورنو تولید ته ادامه ورکوله او د نړۍ په کچه مطرح شوې کمپنۍ وه. د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره د الکترونیکي موټرونو د تولید تشه لیدل کېده. دوی هم هڅه کوله چې د الکترونیکي موټرونو په تولید کې خپله وړتیا و ازمویي. د جاپان حکومت هم د داسې موټرونو د تولید لپاره علاقه ښوده چې د دوه ګوني انرژۍ د کارولو وړتیا ولري او کمپنۍ به یې هڅولې چې الکترونیکي موټرونه تولید کړي. د جاپان د پوځ د اړتیاوو له مخې، نیسان کمپنۍ په ۱۹۵۱ کال کې خپل لومړنی دیفرانسیل موټر د نیسان پټرول په نامه تولید کړ. دا موټر له ډېرو اړخونو د جاپانیانو د پام وړ وګرځېد، له ظاهري اړخه تر ډېره جیپ موټر ته ورته و، هېره دې نه وي چې جیپ موټر په امریکا کې تولیدېدل او ډېر مینه‌وال یې په هغه وخت کې لرل.
په ۱۹۷۰ کال کې نیسان شرکت امریکا ته د خپلو موټرونو د صادراتو لړۍ ته ادامه ورکړه، دوی هلته ځان ته نوی بازار برابر کړل، دوی هر کال تر ۲۵۵ زره ډېر موټرونه هلته پلورل، په ۱۹۷۱ کال کې هم د دوی پلور هلته په لوړه کچه روان و، خو وروسته په امریکا کې د سون توکو لوی بحران رامنځته شو، نو دغه شرکت اړ شو چې د هونډا او ټویټا په څېر کوچني او د کم مصرف لرونکي موټرونه تولید کړي.
د ۱۹۹۰ کال په لومړیو کې نیسان شرکت د میکرا په نامه موټر تولید کړ. ښکلې طراحي یې درلوده او درې کاله وروسته د اروپا د کال غوره موټر معرفي شو. د ۱۹۹۰ یمې لسیزې په اوږدو کې نیسان هر کال زیان کاوه، فورډ او کرایسلر دوی ته نور فرمایشونه نه ورکول، خو رنو هوکړه وکړه چې د ۵،۴ میلیاردو ډالرو پور په مقابل کې د دغه شرکت ۳٦ سلنه سهام خپل کړي.
د نیسان کارځایونو د یو میلیون موټرونو د تولید ظرفیت درلود، دوی کولی شوی دغه شمېره موټر وپلوري، د دې له ۱۰ تر ۲۰ سهامو بیه ۱۱ میلیارده ډالرو ته رسېده، دوی له سختو ستونزو سره مخ وو، زیان لا هم روان و، د دوی د زیان سبب نه و معلوم، شفافیت له منځه تللی و، پر مشتریانو یې تمرکز نه درلود، سلسله مراتب نه مراعات کېدل، پر رقیبانو یې تمرکز نه وکړی، د کار فرهنګ نه مراعت کېده، شرکت خپل سری شو، هر څه دې ته ورته شول لکه یو کور ته، هر چا په خپل زړه کار کاوه، د کارکوونکو تر منځ د همکارۍ روحیه نه وه، په داسې یوه حالت کې شرکت ته دومره زیان ورسید چې اړ شو د ځان په ژغورنه پسې شي، په شرکتونو او کارځایونو کې ځینې عادي شیان وي چې ښایي د خلکو تر پام زیانمن نه وي، خو د اهمیت نه ورکول د دې سبب کېږي چې ستر شرکت ماتې وخوري، نیسان هم له همداسې یوه حالت سره مخ شوی و.
کارلوس غسن د ۱۹۹۹ کال په جون کې د نیسان د عملیاتي مدیر په توګه خپل کار پیل کړ، په ۲۰۰۰ کال کې د دغه شرکت رییس مقرر شو او په ۲۰۰۱ کال کې د مدیره هیت مشر وټاکل شو. کله چې غسن د دغه جاپاني شرکت مشري او مدیریت په غاړه واخیست، نو دغه شرکت پوره شل میلیارده ډالره پوروړی و، دوی ۴۸ ماډله موټرونه تولیدول، خو پوهېږی له دریو موډلونو پرته نور ټول په زیان کې روان وو.
نیسان زیان لیدلی، پوروړی او در بدر شرکت غسن ته تسلیم شو، هغه په ډېره بېړه څو ډلې جوړې کړې، دوی په طراحۍ، د شرکت بیا جوړولو، اخیستنې، پلور او انجنیرۍ په برخه کې فعالیتونه پیل کړل. ده د ظرفیت د لوړولو لپاره نمونه او تکړه کارکوونکي د ډلو په مشرۍ وټاکل. بیا یې دا هره ډله یوه مهم مدیر ته چې په کمپنۍ کې یې پوره واک درلود، وسپارله، ده دا مدیران له ځان سره جاپان ته راوستي وو. د نیسان لپاره د غسن طرحه د یوې زلزلې په څېر وه، یو دم یې دغه شرکت بدل کړ، له کارونو نیولې د مرکزونو او کارځایونو تر رنګه هر څه بدل شول.
غسن داسې فکر وکړ چې له امله یې د اضافي لګښتونو کچه پوره نیمې ته راټیټه شوه، یو دم د اخیستونکو شمېره ۲۰ سلنه ډېره شوه، هغه د نیسان د بیا را ژوندي کېدو لپاره زمینې برابرې کړې. هغه د نیسان موټرونو د طراحۍ او تولید په برخه کې طراحانو او انجنیرانو ته پوره واک ورکړ.
کارلوس غسن همداسې له رنو سره د یوې شریکې پروژې له مخې کوچني موټرونه تولید کړل، دغه موټرونه په اروپا کې د نیسان موټرونو ځای ناستي شول. دوی د تولید سرعت ډېر کړ، د نیسان پلور بېرته ۲۷ کاله مخکې ته را وګرځېد، همداسې یې بازار تود شو او مینه‌وال یې ډېر شول. خلکو به په هغه وخت کې د نیسان مدیریت ته په درنه سترګه کتل او هغه یې د کار نمونه بلله. په ۲۰۰۰ کال کې یې پلور ۱۷ سلنه وده وکړه او په دې توګه تر هونډا مخکې شو، پلور یې تر دغه شرکت ۱۳ سلنه لوړ شوی و، خو د ټویټا په مقابل کې چې هغه ۴۲ سلنه مخکې وه، بیا وروسته پاتې کمپنۍ وه.
نیسان په ۲۰۰۳ کال کې وده کړې وه، پوره پوره مشتریان یې لرل، په دې وخت کې له خپلو اتو نوو ماډل موټرونو سره یو ځای د ۲۰۰۳ کال نندارتون ته ولاړه. تاکیرو فوجي موتو د توکیو پوهنتون استاد او مرستیال وایي، یوازینی شی چې نیسان یې وژغورلو، د غسن مدیریت و، هغه یو خلاق انسان و، په دې پوهېده چې څنګه کولی شي دغه بحراني شرکت چې پوره پوره ۲۰ میلیارده ډالره چې کمه شمېره نه ده، له پور وژغوري. چا فکر نه کاوه چې نیسان دې بیا په پښو ودرېږي، سترو سترو شرکتونو ورسره خپله اړیکه پرېکړه، ځکه دوی وېرېدل چې دغه شرکت به مات شي، خو هغه د مدیریت د ضعف له امله مات شوی بېرته د مدیریت په پیاوړي کېدو وژغورل شو.
په نیسان کې د غسن فعالیتونه د پام وړ وو، په لومړي کال کې یې خالصه ګټه ۲،۷ملیارده ډالره وه، تر ۲۰۰۵ کال پورې دغه شرکت دومره ګټه وکړه چې خپل ټول پورونه یې پرې کړل.
په حقیقت کې نیسان د بریا لامل له رنو جاپان ته د کارلوس غسن راتلل وو، وروسته رنو او نیسان سره یو ځای شول او دغه مدیر دواړه شرکتونه اداره کول، ده هڅه کوله چې پر خپل ځای ښه تکړه جاپانی کس وګماري او خپله د رنو شرکت مدیریت ته ورشي، خو په دې کار نه بریالی کېده، وېره ورسره وه چې دغه شرکت به یو ځل بیا د فساد او خپل سریو له امله په پورونو کې ډوب شي. په ۲۰۰۵ کال کې د رنو د مدیریت هیئت رییس وټاکل شو.
همدا اوس هم نیسان شرکت په نړۍ کې ډېرې کمپنۍ چلېنج کولی شي، د پام وړ پرمختګ یې کړی دی. ټویټا هم ګواښلی شي، خو هنډا کمپنۍ ډېره ورورسته ځنې پاتې ده. دوی نوي موډلونه تولیدوي، ګران بیه او ارزان بیه موټرونه لري، خو له لوړ کیفیت برخمن دي. د نیسان شرکت اجرایوي مدیر کوریر ماتسومورا هم وایي چې د بریا ستر لامل یې غسن دی. د ده په وینا، د غسن کړنې کولی شي د خلکو باورونه د ډېرو شیانو په اړه بدل کړي.
نیسان تر ۹۵ میلیارده ډالرو پورې د غسن په مدیریت کې عاید درلودل، چې د پام وړ عدد دی. دغه شرکت اوس هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ۱۵۵ زره کارکوونکي لري، د نړۍ په کچه د موټر جوړونې د سترو کمپنیو په قطار کې ولاړه کمپنۍ ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۳۰ |
| € | ۹۵,۲۰ |
| Rp. | ۵۰۲ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱,۸۰ |
| £ | ۱۰۹,۳۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# تور قارچ څه ډول ناروغي ده؟

ژباړه: احسان الله کریمي

تور قارچ ناروغي چې د کرونا ویروس نوې بڼه ده، پر ځینو هیوادونو سربېره یې تازه په افغانستان کې هم مثبتې پېښې ثبت شوې دي، خو دا ناروغي تر ټولو زیاته په هندوستان کې خپره ده او د یادې ناروغۍ زیاتې پېښې پکې ثبت شوې دي، چې په سلو کې ۵۵ سلنه مړینه هم لري.

د تور قارچ ناروغي تر ډېره په هغو کسانو کې پیدا کیږي، چې د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری وي او یا یې بدن ویروسي ناروغیو ضعیف کړی وي.

د معلوماتو له مخې، دغه ناروغي په خوسا میوو او د انسان د پوستکي په سر او طبیعت کې وي، خو هغه کسان ډېر ژر نیسي چې د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری او نورې ناروغۍ لکه شکر، سرطان او یا هم تنفسي ستونزې ولري.

دا ناروغي کومه خاصه درملنه نه لري او د مړینې کچه یې په سلو کې ۵۵ سلنه ده. دغه ویروس له ناروغ انسانه روغ انسان ته نه انتقالیږي، خو هغه وسایل چې د دوو کسانو تر منځ د استفادې وړ وي، د دې ناروغۍ انتقال ترې ډېر اسانه کیږي.

ډاکتران وایي، دا ډول باکتریاوې معمولاً بدن ته د سینوسونو له لارې ننوځي او هلته د ځان لپاره ځای پیدا کوي او کولی شي د انسان پر مغز، زړه او ان تنفسي سیستم هم حمله وکړي. ډاکتران وایي کله چې د بدن د معافیت سیستم نشي کولی دغه ویروس کنټرول کړي، هغه ده چې بیا پر مغز برید کوي او کله چې هلته ځای پر ځای شي، بیا نو ډېر خطرناک کیږي چې پرې اخته کس باید ژر تر ژره ډاکتر ته ځان ورسوي. البته په عموم کې بدن له دې فنګسي انتاناتو څخه د خلاصون وړ دی او یوازې هغه څوک چې د معافیت سیستم یې ډېر کمزوری وي، لکه د ټرانسپلانټ ناروغان یا د سرطان ناروغان، نشي کولی د دې پر وړاندې مقاومت وکړي.

### د تور قارچ نښې

د دې ناروغۍ تر ټولو څرګندې نښې تبه، ټوخی، د سینې درد، د تنفس تنګوالی، د مخ په یو اړخ کې پړسوب، سردرد، د پزې پل یا د خولې دننه تور زخمونه، د نس درد، التهاب او خواګرځېدل، خونریزي او اسهال د دې ناروغۍ نښې دي.

که چیرته پر پوستکي باندې د دې ویروس کومه نښه ښکاره شي یا د بدن اغېزمن شوی غړی زخم، سوروالی او یا هم پاړسوب کړی وي، دا برخه ممکن توروالی هم وکړي. دغه راز ناروغ ممکن د تودوخې او درد احساس وکړي او په دې وخت کې دا هم امکان لري، چې د وینې له لارې د بدن نورو برخو ته هم خپور شي، چې دې حالته بیا ډاکتران د ډېفیوز موکورمایکوزیس وایي. کله چې پر ناروغ دا حالت راشي، تور قارچ بیا پر زړه باندې اغېز کوي او دا امکان لري چې پر تور قارچ باندې اخته کس کوما ته لاړ شي، چې په دې وخت کې بیا د مرګ خطر ورسره ډېر زیاتیږي.

د تور قارچ ناروغي څومره خطرناکه ده؟

تور قارچ یوه خطرناکه ناروغي بلل شوې او ډېر ژر د انسان په بدن کې مخ پر وړاندې ځي. د ارقامو له مخې، هغه کسان چې پر دې ناروغۍ باندې اخته کیږي، ممکن د څو ورځو په تېرېدو سره پرې ډېر بد اغېز وکړي او ان د مرګ تر حده یې ورسوي. خو په هر صورت، د تور قارچ ناروغي ساري نه ده او د انتشار خطر یې ډېر نشته.

### ولې پر کرونا اخته کسان پر تور قارچ اخته کیږي؟

روغتیاپالان وایي چې پر کرونا د اخته کسانو د بدن دفاعي سیستم د دې ناروغۍ پر مهال کمزوری کیږي، ځکه خو د تور قارچ ویروس پرې په اسانه حمله کولی شي او د ځان لپاره ښه چاپېریال چمتو کوي. بل ټکی دا دی چې د شکر ناروغان چې د وینې لوړ قند لري، پر دغه ویروس د اخته کېدو له زیات خطر سره مخ دي.

د تور قارچ درملنه

که څه هم یاده ناروغي کومه ځانګړې درملنه نه لري، خو له هغو ځایونو چې خاورې او نور میکروبونه پکې وي، لرې اوسېدل ترې د بچ پاتې کېدو یوه ښه لاره ده. د روغتیاپالانو په وینا، که چیرې د موکورمایکوزیس تشخیص وشي، نو درملنه یې باید د تور قارچ ضد درملو سره پیل شي. دا درمل یې د ودې مخه نیسي، وژني یې او میکروب کنټرولوي. لاندې درمل کولی شي پر دغه ویروس له اخته کس سره یوځه مرسته وکړي:

**آمفوتریسین B**

**ایزاوکونازول**

**پوزاکونازول**

دا درمل د رګونو له لارې بدن ته داخلیږي او یا د ټابلیټ په توګه اخیستل کیږي. ډاکټر ممکن تاسو ته د رګونو له لارې لومړی درملنه پیل کړي، څو میکروب کنټرول شي چې دا چاره څو اونۍ وخت نیسي. بیا د درملنې پروسه د ټابلیټو کارولو ته بدلیږي. له هغه ډاکټر سره چې ستاسې درملنه کوي، ټولې ستونزې ورسره شریکې کړئ. د بېلګې په توګه، که د معدې درد، زړه سوځېدنه یا ساه ایستلو کې ستونزه لرئ، حتمن یې له ډاکتر سره شریکې کړئ. ممکن ډاکتر ستاسې د بدن هغه برخه هم عملیات کړي چې پر دغه ویروس ککړه شوې وي. که عملیات ته اړتیا وي، حتمن یې وکړئ، د ژوندي پاتې کېدو چانس ورسره ډېر دی.

د یادونې وړ ده چې تازه د افغانستان د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکتر وحید مجروح ویلي، چې د کرونا ویروس ناروغانو کې د تور قارچ ناروغۍ پېښې د پراخېدو په حال کې دي.

نوموړي د اندېښنې په څرګندولو سره ویلي، که احتیاطي او روغتیایي تدابیر مراعات نشي، د کرونا ویروس مثبتې پېښې به نورې هم زیاتې شي.

نوموړي زیاتوي چې د دغه ناروغۍ یوه یوه پېښه په کابل، بغلان او سمنګان ولایتونو کې ثبت شوې او په وینا یې ډېرې خطرناکې نه دي.

# د بښنې نړیوال سازمان: **افغان حکومت دې د بشري حقونو د مدافعینو د وژنې دوسیې وڅېړي**

د بښنې نړیوال سازمان وایي، په افغانستان کې د بشري حقونو د مدافعینو د ملاتړ په برخه کې د پام وړ کار نه دی شوی او په وینا یې، حکومت باید د وژل شویو مدافعینو قضیې په جدي ډول تعقیب کړي.

دغه سازمان ویلي: «د افغانستان له دولت څخه غواړو چې د بشري حقونو مدافعینو د ملاتړ په برخه کې د خپل کار د ډاډ او ګټور ثابتېدو لپاره بهیر چټک کړي او د بشري حقونو د مدافعینو پر وړاندې ګواښونه او بریدونه په چټکۍ، دقیق، په بې طرفه او خپلواکه توګه او د نړیوالو قوانینو په پوره رعایتولو سره وڅېړي.»

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني په ۲۰۲۰ز کال کې د بشري حقونو مدافعینو څخه د ملاتړ په موخه د بشري حقونو مدافعینو د خوندیتوب لپاره د میکانېزم رامنځته کولو فرمان صادر کړ، خو د بښنې نړیوال سازمان ویلي، چې د دغه میکانېزم له رامنځته کېدو څخه شپږ میاشتې تېرې شوي، خو په دې برخه کې ډېر کم پرمختګ شوی دی.دغه سازمان زیاته کړې: «د جمهوري ریاست د فرمان د صادرېدو له وخت څخه، روغتیایي کارکوونکي، مرسته رسوونکي، د بشري حقونو مدافعین او خبریالان تر هدفي فریدونو لاندې راغلي، د ۲۰۲۱ز کال له جنورۍ راهیسې لږ تر لږه ۲۴ کسان چې له ډلې یې دوه ډاکتران، په بېلابېلو پېښو کې په پروان او فراه ولایتونو کې، ښځینه واکسین کوونکي او خبریالان په ننګرهار ولایت او قاضیان په کابل کې وژل شوي دي.» د بښنې نړیوال سازمان د بشري حقونو له مدافع بنسټونو څخه غوښتي، چې اوس دغه غوښتنلیک لاسلیک کړي او د افغانستان د جمهوري ریاست له دویم مرستیال څخه چې د بشري حقونو د مدافعینو د خوندیتوب د ګډ کمېسیون په سر کې دی، وغواړي چې څرګنده کړي چې دا کمېسیون عملي دی.

د بشري حقونو مدافعینو د امنیت په اړه اندېښنو ته ځواب، د بشري حقونو په مدافعینو د بریدونو او ګواښونو په هکله پلټنې او د برید کوونکو تعقیب او محکمې ته وړاندې کول له هغه مواردو څخه دي، چې له دغه ګډ کمېسیون څخه د پوښتنې په توګه مطرح شوي دي.په ورته مهال د جمهوري ریاست د دویم مرستیال مطبوعاتي سلاکار محمد هدایت وایي، چې د دغه کمېسیون د کار طرزالعمل درې اونۍ مخکې تایید شوی او د بشري حقونو د مدافعینو اړوند ټولې قضیې به یو په یو وپلټل شي.

هغه زیاتوي: «د افغانستان دولت د بشري حقونو د مدافعینو نه ملاتړ، د ټولنې د ټولو قشرونو په ځانګړې توګه د هغو کسانو امنیت ته چې د بشري حقونو په برخه کې کار کوي، ژمن دی».

هدایت تاییدوي چې د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي په زیاتېدو سره د ټولنې د نورو افرادو په څېر د بشري حقونو د مدافعینو پر وړاندې ګواښونه زیات شوي دي.

# راپورونه: په فلیپین کې د پوځي الوتکې د لوېدو په پېښه کې لسګونه کسان مړه شوي

د راپورونو له مخې، د فلیپین C- ۱۳۰ پوځي الوتکې د لوېدو په پېښه کې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د دغه هېواد چارواکو ویلي، دا الوتکه چې سرتېري یې لېږدول، د دغه هېواد په جنوبي سولو ولایت کې د جولو هوایي ډګر ته نږدې لوېدلې ده.

د دوی په خبره، په دغه پوځي الوتکه کې ۹۶ کسان سپاره وو چې له ډلې یې لږ تر لږه ۲۹ پوځي سرتېري او دوه تنه ملکي وګړي چې د الوتکې د لوېدلو په وخت په کروندې کې پر کار بوخت وو، مړه شوي او ګڼ نور په ټپي حالت کې ژغورل شوي دي.

اسوشیټېډ پرېس اژانس د فلیپین چارواکو په وینا لیکلي، چې لږ تر لږه ۵۰ تنه له دې پېښې څخه ژغورل شوي او روغتون ته انتقال شوي دي. د دوی په وینا، د دې الوتکې ۱۷ تنه سپرلۍ لا هم بې درکه دي.

په ورته مهال په ټولنیزو رسنیو په خبرو



شویو ویډیوګانو کې ښکاري یو شمېر سرتېري مخکې تر دې چې دغه الوتکه ولوېږي، له الوتکې څخه یې ځمکې ته ټوپ کړی دی.

په ورته مهال د یاد هېواد دفاع وزیر دلفین لورنزانا ویلي چې د بې درکه شویو کسانو د موندنې لپاره هڅې پیل شوي دي، هغه ویلي چې د الوتکې درې پیلوټان سخت ټپیان شوي دي.

د یادونې ده چې د امریکا متحده ایالتونو روان کال فلیپین ته دوې هرکولیس سي-۱۳۰ الوتکې د یاغیانو پر ضد د عملیاتو په موخه ورکړې وې. د فلیپین پوځ له اوږدې مودې راهیسې د ابو سیاف د سخت دریځه ډلې له جنګیالیو سره په جګړه بوخت دی او په دغه الوتکه کې سپاره سرتېري هم د سولو ولایت ته د یاغیانو پر ضد د عملیاتو لپاره لېږدول کېدل.

د فلیپین د پوځ لوی درستیز کیریلیتو سوبیجانا ویلي چې دغه الوتکه د ښکته کېدو په وخت له رنوې څخه وتلې او ټکر یې کړی دی. د فلیپین د پوځ ویاند ادګارډ اریوالو ویلي، چې په دې الوتکه باندې د برید کومه نښه نشته، خو د هغه په وینا، په هکله پلټنې پیل شوي دي. د فلیپین هوایي پوځ پخوا هم له دغه ډول پېښو سره مخ شوی دی. تېره میاشت د زده کړو په یوه ماموریت کې د فلیپین د پوځ د بلک‌هاک هلیکوپټر د لوېدلو په پېښه کې شپږ پوځیان ووژل شول. دغه راز په ۱۹۹۳ز کال کې د فلیپین د هوایي ځواک د سي-۱۳۰ الوتکې د لوېدو په پېښه کې ۳۰ پوځیان ووژل شول، خو تر ټولو مرګونې هوایي پېښه په ۲۰۰۰ز کال کې وه، چې د فلیپین د هوایي کرښې ۷۳۷ بوینګ الوتکه ولوېدله او ۱۳۱ تنه پکې مړه شول.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
Daily
New Vision, New Journey

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۱۴مه | د ۲۰۲۱ د جولای پنځمه | ۷۴۴مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ٤٠ | ٤١ | ٤٢ | ٤١ | ٣٣ |
| ١٨ | ٢٤ | ٢۶ | ٣٣ | ٢٥ | ٢٢ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۱ | لمر ختل ۰۴:۴۶ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۵:۰۰ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۵

## مشرانو جرګه: امریکا و پاکستان در مسایل صلح و جنگ افغانستان صادقانه نیست



با گسترش دامنۀ جنگ و حمله‌های طالبان در کشور، شماری از سناتوران ادعا می کنند که امریکا و پاکستان از طالبان پشتیبانی می کنند.
به‌گفتۀ این سناتوران، ایالات متحده حتا در زمان حضور بیست ساله‌اش در افغانستان نیز صادقانه عمل نکرده‌است. صفی‌الله هاشمی، یکی از سناتوران گفت: «نا جوانمردانه آمدید و نا جوانمردانه رفتید. مردم افغانستان را به خاک و خون انداختید و حالا می گویید گپ افغانستان را دیگر نزنید.»
این سخنان سناتوران، ظاهراً واکنشی است به گفته‌های اخیر جو بایدن، رئیس‌جمهور امریکا دربارۀ افغانستان که در پاسخ به پرسش خبرنگاران گفت که از او دربارۀ افغانستان سوال نکنند و می‌خواهد دربارۀ مسایل شاد صحبت کند.
انارکلی هنریار، عضو مشرانو جرگه نیز افزود: «از سازمان ملل متحد می‌خواهیم که در این پروسه دخیل شود و بالای پاکستان و کشورهایی که آتش جنگ را در افغانستان روشن ساختند فشار بیاورد.» اما شمار دیگر از سناتوران می گویند که امریکا و دیگر کشورهای جهان در بیست سال گذشته کوشش کردند افغانستان را کمک کنند، اما به‌علت اختلاف سیاست‌گران و حیف ومیل پول از سوی سیاست‌گران کشور، فرصت‌ها از دست رفتند. نادربلوچ، عضو این جرگه اظهار داشت: «امریکا دالر روان کرد، سیاسیون ما آن را دزدی می کردند و می‌بردند به دبی و اروپا و کشورهای دیگر.»

## نړۍ




## راپورونه: د ملګرو ملتونو د اټومي څارنې اداري مرستیال راتلونکې اونۍ ایران ته ځي

د ملګرو ملتونو د اټومي څارنې په اداره کې د ایران استازی کاظم غریب ابادي وايي، چې د دې اداري مرستیال مشر به راتلونکې اونۍ ایران ته ولاړ شي. د ایران دولتي خبري اژانس ایرنا د ابادي له قوله خبر ورکړی، چې ایران ته د ماسیمو اپارو سفر د خونديتوب د هر اړخيزې موافقې په چوکاټ کې د خونديتوب د عادي فعاليتونو د څارنې د ترسره کېدو په ترخ کې کېږي.
نوموړي زياته کړې، که څه هم دی له دې اداري سره منظم په تماس کې و، خو تهران ته د نوموړي په سفر کې له چارواکو سره خبرې اترې نه دي پلان شوي.
په ورته مهال يوې اروپايي ډيپلوماتيکې سرچينې فرانس پرېس ته تهران ته د نوموړي د سفر خبره تاييد کړې او ويلي يې دي چې هغه به په اصولو کې د نطنز له اټومي تاسيساتو کتنه ترسره کړي او دا مسئله به وڅېړي چې ايا څارونکې په دې تاسيساتو کې هغو سنټريفيوژونو ته لاس رسۍ لري چې د يورانيمو د غني کولو لپاره ترې استفاده شوې ده.
د راپورونو له مخې، ايران په دې تاسيساتو کې د اپريل په ۱۱مه له يوې چاودنې وروسته د دې اداري پر ورانديې څارنه محدوده کړې وه، خو څو ورځې وروسته يې بېرته بشپړه پيل کړه.


## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۹۸۹ زرو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر۱۸۴میلیونه او ۳۸۰زره او ۱۱٦ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۹۸۹زره او ۸۱٦ کسان مړه شوي او نږدې ۱٦۹ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۴میلیونه او ۵۸۸زره او ۱۷٦ ته رسېدلي او ٦۲۱ زره او ۲۵۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۳۰میلیونه او ٥٦٦ زره او ٦۳۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۸ میلیونه او ۷۴۲زره او ۲۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۷۸۳ زره او ٦٥۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د پنځه میلیونه او ٦۱۰ زره او ۹۴۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
ترکیه، بریټانیا، ارجنټاین، کولمبیا او ایټالیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ژوند

## موټرولا تر ټولو کلک ځیرک موبایل بازار ته وړاندې کړ



موټرولا کمپنۍ د ۲۰۲۱ کال په پيل کې له يوې برېټانوي کمپنۍ سره چې کلک ځيرک موبايلونه جوړوي، ټرون لاسليک کړ او اوس د همدغې کمپنۍ په مرسته يې خپل لومړنی کلک ځيرک موبايل موټرولا ډيفي۲۰۲۱ مينه‌والو ته معرفي کړی. دا د موټرولا کمپنۍ لومړنی ځيرک موبايل دی چې اوبه، د تودوخې درجه او غورځېدل پرې هېڅ کوم اغېز نه لري. دغه ځيرک موبايل کې ٦,٥ انچه اېچ ډي پلس ډوله مخ‌پاڼه او ګوريلا ګلاس وېکټس کارول شوی دی او د تودوخې له ۲۵- څخه تر ۵۵+ درجو کې هم کار کوي. ډيفي۲۰۲۱ د ډراپ پروف ځانګړنه هم لري. ياني له ۱,۸ متره لوړوالي څخه غورځېدل به هېڅ کوم اغېز پرې ونه لري. دغه ځيرک موبايل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن٦٦۲ ډوله پروسېسر، ۴ ګېګابايټ رم او ٦۴ ګېګابايټ د فايل ثبتونې وړتيا ورکړل شوې. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسل اصلي، ۲ مېګاپکسل مکرو او ۲ مېګاپکسل ډيپت سېنسر پکې شاملې دي. مخکينۍ برخه کې ۸ مېګاپکسله وړتيا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځيرک موبايل بيه ۳٦۰ امريکايي ډالره ټاکل شوې ده.

## د زردالو د زړو ډېر خوړل روغتیا ته زیان رسوي



زردالو د اوړي موسم هغه مېوه ده چې بې شمېره روغتيايي ګټې لري. د خوراکي توکو کارپوهان وايي چې زردالو د نوې وينې په جوړولو کې مهم رول لوبوي او ډېر کسان د زردالو زړی هم ماتوي او په شوق سره يې خوري، ځکه چې د زردالو زړی د بادامو په څېر خوند لري؛ خو نن ورځ مو د دې مېوې د زړو له تاوانه خبروو. په دې اړه پوهېدل ډېر اړين دي چې د زردالو زړی د ايمګډالن لرونکی وي چې بدن ته په تلو سره د ساينايډ زهرو شکل خپلوي او ډېر خوراک يې د مړينې سبب کېږي. له دې پرته د زردالو د زړي خوراک نورې ستونزې هم رامنځته کوي، چې د سر ګرځېدل، زړه بدوالی، کانګې کول او شريانونو ته زيان رسول هم په دې نوملړ کې ځای لري. خو د زردالو د زړو په اړه په عام ډول دا هم ويل کېږي چې دا دې سرطان پر ناروغۍ د اخته کسانو لپاره ډېر ګټور وي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
1515 www.azizibank.af
عزیزي بانک
Azizi Bank